## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست پېژندنه

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د افغانستان اسلامي امارت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له مرکزي مهمو ریاستونو څخه شمېرل کیږي.

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست په ۱۳۹۰ یم لمریز کال کې د مهاجرینو او راستنېدو چارو وزارت په اډانه کې د یوه اطلاعاتي او نشراتي ارګان په توګه په فعالیت پیل وکړ او د هېواد د مهاجرینو او راستنېدو چارو وزارت د موخو، کړنلارو، تګلارو او طرح شویو پلانونو مطابق د اطلاعاتي چارو د ښه تنظیم، پر وخت د کاري همغږي د ایجادولو او له ټولنیزو رسنیو سره د اړیکو په برخه کې خپلې برنامې د مهاجرینو وزارت د ستراتیژۍ او پالیسۍ همدا ډول د مهاجرت د نړیوال کنسوانسیو مطابق عملي کوي.

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست په رسمي مسوده کې د ( د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست) چې په دري کې (ریاست اطلاعات و ارتباطه عامه) ده، ګڼل کیږي. دا اداره په مستقیم ډول د وزارت (مالي او اداري معنیت) تر واک لاندې فعالیت کوي. دا ریاست د فعالیتونو د لا ښوبۍ په موخه درې عملیاتي پلانونه لري:

- ✓ کلني پلان. په ربعواره توګه
- ✓ تبلغاتي پلان.
- ✓ تطبیقي پلان.

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د دندو اساسي موخې:

- ✓ د اطلاعاتو او عامه پوهاوي له اړوندو چارو نظارت او مدیریت کول او د ټولو فعالیتونو، پرمختګونه او لاسته راوړنو ته انعکاس ورکول او د چاپي، انځوریزو، غږیزو رسنیو له لارې عامه پوهاوي کول.
- ✓ له رسنیو او نورو دولتی او خصوصي ادارو سره دوامداره اړیکه.
- ✓ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د ټولو سیمنارونو، کنفرانسونو او علمي غونډو څخه، راډیویي، چاپي او تلویزیوني رسنیو ته خبر ورکول.
- ✓ اطلاعاتو ته د لاسرسۍ زمینه برابرول او پر وخت اطلاع روسونه.
- ✓ د وزارت د پلانونو، لاسته راوړنو او فعالیتونو په هکله عامه پوهاوي.
- ✓ د د غیرقانوني او په قاچاقي لارو د تګ د مخنوي په پار عامه پوهاوی.
- ✓ د وزارت چارو ته خبري انعکاس ورکول او د ټولو لاسته راوړنو تحقق.

## لیدلوری :

- ✓ د اطلاع رسونې په برخه کې یو مخکښ او ځواب ورکوونکی وزارت لرل.

## ماموریت :

- ✓ د وزارت له ټولو واحدونو څخه پر وخت اطلاعات راټولول.
- ✓ د وزارت ټول فعالیتونه او لاسته راوړنې خپرول او پر وخت یې له رسنیو، خلکو او د اړوند بنسټونو سره یې شریکول
- ✓ د وزارت اړوند د ټولو کلتوري او ارتباطي مسایلو همغږي کول.

## کړنې او فعالیتونه :

د مهاجرینواو پناغښتونکو، دا خلي بې ځایه شویو او راستنېدونکو په برخو کې د خبر، راپور، خبرپاڼې او اعلامیو د چمتو کولو په پار له ټول هېواد او بهر څخه مالومات راټولول او د وزارت پر فیس بوک پاڼه، ویب پاڼه، د (راستنېدنه) په اوونیزه او د خبري کنفرانسونو له لارې د دغو خبرونو، راپورونو، خبرپاڼو او اعلامیو خپرول. خبري کنفرانسونه جوړول، سیمینارونه، ورکشاپونه، د مهاجرینو نړیوالې غونډې او د وزارت اړوند نورې غونډې او پېښو ته پوښښ ورکول. د «مهاجر» د مجلې له لارې د مهاجرینو او پناغښتونکو، دا خلي بې ځایه شویو او راستنېدونکو د برخې د کارپوهانو او متخصصینو علمي او مسلکي موضوعات خپرول، د وزارت برنامو ته د پوښښ ورکولو په موخه له ملي او نړیوالو رسنیو سره اړیکه نیول، د بېلابېلو موضوعاتو د خپرولو په موخه رسنیو ته خبرونه، انځورونه او ویډیوګانې استول، مرکه کوونکو او مرکه کېدونکو ترمنځ همغږي ایجادول، دمالوماتو د راټولو لپاره د رسنیو د پام وړ موضوع تثبیتول او رسنیو ته د مالوماتو او منابعو اسانتیا برابرول د دې ریاست چارې او فعالیتونه تشکیلوي.

## د ۱۴۰۳ کال مهمې لاسته راوړنې:

- ❖ لومړی: د لومړي ځل لپاره د راستنېدنې الکترونیکي اونیزه رامنځته کول او تر دې دمه یې (۱۲) ګڼې نشر شوې دي.
- ❖ دوهم: د لومړي ځل لپاره دیوالي جریده رامنځته کول، چې د وزارت په بېلابېلو برخو کې اته صندوقونه(ویترینونه) لري، چې تر دې دمه یې (دوهمه) ګڼه پکې خپره شوې ده.
- ❖ درېیم: د لومړي ځل لپاره په ویب پاڼه کې (۱۰) نوې مینیوګانې اضافه شوې او په ویب پاڼې کابو ۴۰ سلنه مواد ور اضافه او نوي شوي دي، چې تر دې دمه د ویب پاڼې ټول مواد (۷۵) سلنه تکمیلوي.
- ❖ څلورم: د امارت له راتګ وروسته د لومړي ځل لپاره د مهاجرینو په برخه کې علمي رساله لیکل شوې او په ویب پاڼه کې نشر شوې ده.

- پنځم: د ښاغلي وزیر صیب الحاج خلیل الرحمن حقاني د ویناو ټولګه د مقالو په ډول چاپ ته اماده شوې او زره ده، چې چاپ شي.
- شپږم: د وزارت د اړوند ادارو له رییسانو او مسوولینو سره د مرکو لړۍ شروع شوې، چې تر دې دمه درې مرکې شوې او خپرې شوې دي.
- اووم: مستند او تحلیلي ویډیو ګانې او ویډیویي تحلیلي را پورونه لړۍ پیل شوې، چې تر دې دمه یې (۴۰) دانې ویډیو ګانې خپرې شوې دي.
- **د خبرونو او راپوروونو خپرول :**

سږ کال په لومړۍ ربع کې یاد ریاست توانېدلې ده، چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د وزارت له کړنو 920 خبرونه او راپوروونه ددې وزارت په ویب پاڼه، فیسبوک او ټولنیزو سایټونو کې نشر کړي او د ملي او نړیوالو رسنیو سره یې شریک کړي دي.

- **خبر پاڼه:**

هر ورځ خبرپاڼه د ملي او نړیوالو رسنیو او ویب پاڼې څخه د خبرونو سرټکي راټولول او نشرول، چې تر دې دمه ۱۲۰ دانې خبر پاڼې نشر شوې دي.

- **خبري اعلامیې**

له هغو سترو برنامو او پروژو، چې ډېر خبري ارزښت یې درلود( ۲) خبري اعلامیې چمتو او رسنیو ته لېږل شوي دي.

- **د تدارکاتي اعلانونو خپرول:**

د روڼتیا د ایجادولو په پار تدارکاتي خبرتیاوې د وزارت د ویب پاڼې او ټولنیزو کانالونو له لارې خپرېږي، ددې کال په ترڅ کې د وزارت په ویب پاڼه کې (۲) تدارکایتي خبرتیاوې نشر شوي دي او سربېره پر دې په ویب پاڼه کې د کوچنیو تدارکاتي اعلانونو مینیو هم جوړه شوې ده، چې تر دې دمه (۷) اعلامیې پکې نشر شوې دي.

- **د کارموندنې اعلان :**

د مسلکي او شرایط ورو کسانو د جذب او لا روڼتیا په پار د وزارت د ویب پاڼې له لارې د کارموندنې د (۳) بستونو خبرتیاوې نشر شوي دي.

- **د راستنېدنې اونیزه :**

د فعالیتونو او راپوروونو د خپرولو په پار د اوونیزې (راستنېدنه) ۱۲ ګڼې بریښنایي فایل په ویب پاڼه کې نشر شوی دی.

- **ویډیویي مستندونه :**

د وزارت د فعالیتونو او کړنو د ښه انعکاس په پار د وزارت له بېلابېلو فعالیتونو څخه ۲۲ لنډ

ویډیویي کلیپونه/ او ویډیویي راپورنه په مستنده بڼه چمتو او له خلکو سره شریک شوي دي. دغه ویډیو ګانې د وزارت په ویب پاڼه، یوټیوب او فیسبوک، ټویټر کې هم نشر شوې دي او دغه راز رسنیو ته هم لیږل شوي دي.

**واکونه:** د هیواد د نافذه قوانینو له مخې : د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د ټولو وزارت د اطلاعاتو په راټولونه او اطلاع رسونې په برخه کې ټولو چارو ته لاس رسی لري او څوک چې په یاده اداره کې کار کوي(د هیواد دننه او بهر) له ټولو څخه اطلاعات راټولولی شي.

**هماهنګي اداري:** د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د افغانستان اسلامي امارت ویاند، د افغانستان د رسنیو مرکز، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د هیواد ملي او نړیوالو رسنیو او د مهاجرینو وزارت د ټولو اداري واحدونو سره هماهنګي او همغږي لري.

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د ۱۴۰۳ کال جوړښتیز چارټ



## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست څنګه کار کوي؟

- ❋ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د مهاجرینو وزارت تر نفوذ لاندې ادارو د لاسته راوړنو، عامه پوهاوی او خبري پوښښ په موخه پلان ترتیبوي. د مقام د تایید وروسته د منظورۍ په موخه یې د ریاست الوزرا ستر مقام ته یې د اړوند مراجعو له لارې یې وړاندې کوي.
- ❋ د حکومت د اطلاعاتي ادارو سره په هماهنګۍ د هیواد له ۳۴ ولایتونو، مرکزي ادارو او د اتشه دفترونو څخه اطلاعات راټولوي او د خپلو کانالونو څخه یې د اطلاع رسونې په موخه یې خپروي.
- ❋ دا اداره د وزارت په اړانه کې د زوارت د اطلاعاتي، مطبوعاتي، عامه پوهاوی او د نشراتو دنده لري، چې په دې توګه د روڼتیا او د فساد سره د مبارزې ټول بریدونه ښکاره کوي.
- ❋ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په چوکاټ کې د ریاستونو د کړنو او لاسته راوړنو څخه راپورونه او خبرونه راټولول او د هیواد ملي او نړیوالو رسنیو ته یې استوي.
- ❋ تر نفوذ لاندې څانګو د فعالیتونو په اړه د اصلاح لپاره د وړاندیزونو او نظریاتو ورکول.
- ❋ باصلاحیته چارواکو ته د اداري د کړنو څخه تحلیلي راپورونو سپارل.
- ❋ د شفافو او ګټورو غونډو جوړول او د اداري فساد مخنیوی.
- ❋ نو په دې توګه د وزارت د چارو اسانتیاوې او پرمختګونه، د کاري ډلې زحمات د اړوندو بنسټونو سره یې معلومات شریکوي.

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست اداري مدیریت پروسه

پلان ترتیبول او د منظور شوي کلني پلان د فعالیتونو د اجرا لپاره د وزارت مقام ته وړاندیز کول.

د فعالیتونو د مصارفو په موخه اړوندو هماهنگو ادارو ته د مقام د حکم مکتوب ور استول او همدا ډول د اطلاعاتو، راپورنو، لاسته راوړنو او نورو اړوندو چارو د راټولولو په موخه اړوندو بنسټونو او ادارو ته په کتبي شکل خبر کول.

د مطبوعاتي چارو د خپراوي په موخه له اړوندو اشخاصو، بنسټونو او ادارو څخه په کتبي شکل مواد غوښتل او په مجلې او جریدو کې یې نشرول.

د مطبوعاتي غونډو، کنفرانسونو، سمینارونو او ورکشاپونو د خبري پوښښ په موخه کورنیو او بهرنیو رسنیو ته اعلامیې استول، اشخاصو/ ادارو/ بنسټونو ته بلنلیکونه ورکول او د وزارت له کانالونو یې خپرول.

د فعالیتونو د تر سراوي په موخه د مقام او اړوند ادارو سره ناستې کول، تر څو د فعالیت د اجرا لپاره هماهنگي او هدایات رامنځته شي او خنډونه له منځه ولاړ شي.

ملي او نړیوالو رسنیو ته د وزارت د ټولو کړنو او چارو راپورونه ورکول او د ټولو رسنیزو غونډو تنظیم او مدیریت کول.

د وزارت د چارو په اړه مستندي ، تحلیلي، خبري ویډیوگانې چمتو کول، خپرول او رسنیو ته لیږل.

د اجراییه مدیریت په واسطه د ټولو اړوندو ادارو سره کتبي همکاري او هماهنگي کول.

د وزارت د مقاماتو سره د خبري پوښښ په موخه بهرني او کورني سفرونو لپاره سفرونه کول.

دری داني مطبوعاتي رسنۍ( مهاجر مجله، دیوالي میاشتنی جریده او اونیزه جریده) خپرول او ۴ داني ټولنیزي شبکې، ۱ دانه ویب پاڼه او پنځلس داني خپرې واټ ساپ گروپونه او د ویډیوگانو د خپرولو په موخه ۱ دانه د یوټوپ چینل څخه نشرات وړاندې کول.

## د اطلاعاتو آمریت کاري بهیر



## د عامه اړیکو آمریت کاري بهیر



## د اطلاعاتو د مدیریت کاري پړاونه



## اجراییه مدیریت او دهغه دندې:

یاد ریاست په خپل تشکیل کې(5 مه) رتبه بست د اجراییه مدیریت لپاره ځانګړی شوی، چې لاندې دندې پر مخ وړي:

1. د مکتوبونو ، وړاندیزونو او نورو اړوندو اسنادو ترتیب او لیکل.
2. د کاري پروسې د چټکتیا په خاطر د اړونده شعبو سره کتبي یا تیلفوني اړیکه ټینګول.
3. د ریاست اړوند رسمي اسنادو صادرول او اړوندو شعبو ته استول.
4. د ریاست اداري چارو لپاره د قرطاسیې اماده کول، تر څو په ورځنیو چارو کې خنډ رامنځته نه شي.
5. د رهبری د پریکړو ، فرمانونو او نورو رسمي اسنادو ثبت او اړوند آمریتونه په جریان کې کول.
6. د ریاست اړوند هفته وار او میاشتنیی غونډو د اجنډا ترتیب ، د موضوعاتو لیکل او تر وروستی نقطې تعقیب کول.
7. د اداري د رسمي اسنادو د محفوظیت لپاره سافټ او هارډ منظم سیستم فعال ساتل او پکې اسناد ثبت کول.
8. اونیز، میاشتنی، کلني کاري راپورونه راټولول، ترتیبول او اړوند بنسټونو ته یې استول.

## ننګونې او ستونزې چې د اطلاعاتو او عامه اړیکو  ریاست ورسره مخ دی

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د خپلو کاري پروسو په جریان کې د لاندې ستونزو سره مخ دی:

1) د بودجې د نشتون له وجهې  د ریاست لخوا د ترتیب شوي کلني پلان نه تطبیق او په زیاته کچه د عصري وسایلو نه شتون
2) د ځینو ریاستونو له لوري زموږ د ریاست سره په چارو کې نه همکاري او د نه همغږی شتون.
3) په دوهمي واحدونو کې د مسلکي کارکوونکو نه شتون، تر څو په ټوله مانا یو ښه خبر را واستوي.
4) د اداري پلاوي  لپاره په ریاست کې د ننه د آرامه، پراخه او ښه کاري ځای نه شتون.
5) د اداري پلاوي لپاره د ضرورت وړ قرطاسیې نه شتون.
6) دا چې ددې ریاست کارکوونکي په غیر رسمي وختونو کې خپل نشراتي پوښښ ژوندی ساتي، د خبرونو د خپراوي په موخه کریډیټ کارټ او انټرنیټ نه شتون.

**و من الله توفیق**

**مفتي عبدالمطلب حقاني**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس**